# په افغانستان کې
# د پولې په اوږدو کې
# ملکي مرګ ژوبله
## اکتوبر- ډسمبر ۲۰۲۵

فبروری ۲۰۲۶

United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

## د دې راپور په اړه

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګې دا سند د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲)[1] پرېکړه لیک له مخې د یوناما د مأموریت پر بنسټ چمتو کړی دی، چې له مخې یې یوناما مکلفه ده «په ملي او محلي کچه له ټولو ښکېلو لورو، د مدني ټولنې او نړیوالو غیر دولتي بنسټونو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو د ساتنې او ترویج لپاره ښکېلتیا ولري» او همدارنګه «د ملکي وګړو د وضعیت څارنه، راپور ورکول او ملاتړ وکړي».

## کړنلاره


دا راپور یوازې هغه معلومات او شمېرې وړاندې کوي چې د ملکي تلفاتو او پېښو په اړه دي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی ماموریت (یوناما) لهخوا د باور وړ بلل شوي دي. ملکي مرګ ژوبله هغه مهال د «تایید شویو» په توګه راپور کېږي چې د یوناما لهخوا د ارزول شویو ټولو معلوماتو پر بنسټ دا څرګنده شوې وي چې په روښانه او قناعت بښونکي ډول ملکي وګړي وژل شوي یا ټپیان شوي دي.

د دې معیار د پوره کېدو لپاره، یوناما لږ تر لږه درې بېلابېلې او خپلواکې سرچینې غواړي؛ لکه قرباني، شاهد، روغتیايي کارکوونکی، ځايي چارواکي، د ټولنې مشران او یا نورې سرچینې. هر چېرې چې ممکن وي، معلومات د پېښو د قربانیانو او یا عیني شاهدانو له لومړنیو روایتونو او همدارنګه د ځای پر ځای څېړنو له لارې تر لاسه کېږي.

په دغه راپور کې د شاملې ملکي مرګ ژوبلې په اړه ټولې ادعاوې له *برحاله* چارواکو او همدارنګه د پاکستان له حکومت سره شریکې شوې دي.

## سرېزه

د ۲۰۲۵ کال په وروستیو درې میاشتو کې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) په افغانستان[2] کې د پاکستاني پوځي ځواکونو له لوري د ملکي وګړو د ۷۰ کسانو وژل او ۴۷۸ نورو ټپیان کیدل مستند کړي.[3]




[1] د پرېکړهلیک ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) له مخې تمدید شوی.
[2] په دې راپور کې د ملکي تلفاتو ټولې حوالې، پرته لدې چې بل ډول یادونه شوې وي، په افغانستان کې د ملکي تلفاتو ته اشاره کوي. د یوناما مأموریت یوازې په افغانستان کې د رامنځته شویو ملکي تلفاتو څارنه او مستندسازي رانغاړي. له همدې امله، هغه ملکي تلفات چې کېدای شي په همدې موده کې په پاکستان کې رامنځته شوي وي، د دې راپور برخه نه جوړوي.
[3] په ۲۰۲۵ کال کې، مخکې ټولټال د ۶۱۳ ملکیانو مرګ ژوبله راپور شوې وه. د بیاکتنې وروسته په افغانستان کې پاکستاني پوځي ځواکونو ته د ۶۰۵ (د ۸۷ ملکیانو وژل کیدل او ۵۱۸ ټپیان کیدل) ملکیانو مرګ ژوبله منسوب شوې.

د دغو ملکي تلفاتو لویه برخه د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۱۰ تر ۱۷مې پورې رامنځته شوې؛ هغه موده چې د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستان د پوځي ځواکونو ترمنځ پکې د سرحدي تاوتريخوالي کچه لوړه شوې وه. د دغو نښتو په پایله کې، په افغانستان کې له ۵۰۰ څخه زيات ملکي مرګ ژوبله ثبت شوي دي (۴۷ وژل شوي او ۴۵۶ ټپيان).

یوناما له ۲۰۱۱ کال راهيسې په منظم ډول په افغانستان کې د پاکستاني پوځي ځواکونو سره د سرحدي نښتو له امله رامنځته شوي ملکي مرګ ژوبله مستند کوي[4]. هغه ملکي مرګ ژوبله چې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۱ تر دسمبر ۳۱مې پورې ثبت شوي دي، د پاکستان سره د سرحدي نښتو له امله د پخوانيو ټولو کلونو د ثبت شوو ملکي تلفاتو څخه ډېر زيات دي.

## د اکتوبر په ۱۱مه، په پکتيا او کنړ کې ملکي مرګ ژوبله

د اکتوبر د ۱۱مې په ماښام، د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستاني پوځي ځواکونو ترمنځ سرحدي نښتې د شپې تر ناوخته پورې د پولې په بېلابېلو سيمو کې روانې وې.

- د پکتيا ولايت، د ډنډپټان ولسوالۍ د ناري‌کنډو په سيمه کې، د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستان د پوځي ځواکونو ترمنځ د پولې دواړو غاړو ته درنې ډزې وشوې، چې د ماښام له وخته پيل او د بلې ورځې تر سهاره (۱۲ اکتوبر) پورې يې دوام وکړ. د راپورونو له مخې، د پاکستاني پوځي ځواکونو لخوا په استوګنيز کورونو د هاوان مرميو په لګېدو، شپږ ملکي وګړي (څلور سړي او دوه ښځې) ټپيان شول. يو له قربانيانو، چې د چمکني ولسوالۍ اوسېدونکی دی او د سرحدي ډزو له سيمې سره نږدې ژوند کوي، ووېل چې شاوخوا د شپې په یوه بجه دی او کورنۍ يې د یوې زورورې چاودنې له امله له خوبه راويښ شول، چې د دوی د کور ښيښې يې ماتې کړې. شاوخوا پنځلس دقيقې وروسته، د هاوان يوه مرمۍ د دوی پر کور ولګېده، چې دی او د هغه يوه ښځينه خپلوانه يې ټپيان کړل. دغه سړی د سر د ټپ له امله په یوه سيمه‌ييز کلينيک کې تر درملنې لاندې ونيول شو، خو ښځينه ټپي د درې اونيو څخه زيات وخت لپاره په کابل کې په روغتون کې بستر وه.
- د کونړ ولايت، نرۍ ولسوالۍ کې، د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستان د پوځي ځواکونو ترمنځ د پولې دواړو غاړو ته سخته جګړه وشوه، چې د ماښام له وخته پيل او د بلې ورځې تر سهاره (۱۲ اکتوبر) پورې يې دوام وکړ. د ولسوالۍ د اداري مرکز په سيمه کې يوه نجلۍ ټپي شوه. په دوکلم سيمه کې درې ملکي سړي، يوه ښځه، دوه هلکان او يوه نجلۍ ټپيان شول، او په باريکوټ سيمه کې درې ملکي سړي او دوه هلکان ټپيان شول. د راپورونو له مخې، ټولې ملکي مرګ‌ژوبلې د پاکستاني پوځي ځواکونو لخوا د هاوان مرميو د کارولو له امله رامنځته شوې دي. د دوکلم سيمې يو قرباني ووېل چې دی، مېرمن يې او د هغوی درې ماشومان هغه مهال ټپيان شول، چې د هاوان يوه مرمۍ د دوی پر کور ولګېده. د ټپونو د شدت له امله د دغه سړي لاس پرې شو، او مېرمن يې تر يوې اوونۍ زيات وخت په کوما کې وه.

## د اکتوبر په ۱۲ مه په هلمند کې ملکي تلفات

د اکتوبر په ۱۲مه، د هلمند ولايت، ديشو ولسوالۍ، د بهرامچې سيمې، د حاجي حليم کلي کې، شاوخوا د سهار ۹ بجې، د پولې په اوږدو کې ډزو يو ملکي سړی ووژه او يو بل سړی يې ټپي کړ.

## د اکتوبر په ۱۵ مه په کندهار، خوست،کابل او پکتيکا کې ملکي تلفات

د اکتوبر په ۱۵مه، یوناما ټولټال ۴۵۷ ملکي مرګ ژوبله مستند کړې (۳۵ وژل شوي، ۴۲۲ ټپيان)، چې ډېری يې (٪۸۹) د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ کې رامنځته شوې ده.

- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه ، د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کې، شاوخوا د سهار ۳ بجې د *برحاله* امنيتي ځواکونو او پاکستاني پوځي ځواکونو تر منځ نښته ترسره شوه. دواړو لورو، د ثقيله وسلو او هاوانونو په ګډون درندې وسلې وکارولې. لږترلږه ۱۷ ملکيان ووژل شو او ۳۴۶ ټپيان شو. د ملکي وژل شوو کسانو څخه، څلور يې ماشومان، دوه يې ښځې او يو يې نارينه وو؛ د ټپيانو کسانو څخه ۳۰ يې ښځې او ۱۲۶ يې نارينه وو. د نورو قربانيانو جنسيت او عمر په اړه تر اوسه معلومات نشته. يو سړی له سودا اخيستو وروسته کور ته راغی، ګوري چې کور يې په بمبار وران شوی او کورنۍ يې د وران

[4] له ۲۰۱۱ کال څخه بيا تر ۱۵م اګست ۲۰۲۱ کله چې د طالبان واک ته ورسېد، د سرحدي نښتو ښکېل لوري د پاکستان پوځي ځواکونه او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پخواني حکومت امنيتي ځواکونه وو. له ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې وروسته، سرحدي نښتې د پاکستان د پوځي ځواکونو او د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو ترمنځ ترسره شوې دي.

شوو دیوالونو لاندې بند پاتې ده. د هغه شپږ کلنه لور او څلور کلن وراره په پېښه کې ووژل شول او نور پنځه خپلوان (اکثره ماشومان) ټپیان شول. د هغه کور هم ویجاړ شو. بل کس وویل چې یو هاوان د هغه د تره په کور ولګیده، درې کسان یې ووژل او پنځه نور یې ټپیان کړل. بیا هم، ډېری قربانیان ماشومان وو.

- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه، شاوخوا د مازدیګر ۳:۳۰ بجې، د کندهار ولایت، سپین بولدک ولسوالۍ کې، پاکستاني پوځي ځواکونو د ولسوالۍ په اداري مرکز باندې هوايي بریدونه وکړل چې په سیمه کې یې د ملکیانو کورونه زیانمن کړل. لږ تر لږه اووه ملکي وګړي ووژل شول (چې په دوی کې لږ تر لږه څلور هلکان، دوه نجونې او یوه ښځه وه) او لږ تر لږه ۳۰ نور ټپیان شول (چې په دوی کې لږ تر لږه ۱۲ نجونې، پنځه هلکان، اووه ښځې، څلور نارینه او دوه نور وو). ډېر کسان (ټولټال ۲۷) د یوې کورنۍ غړي وو. د هغوی خپلوان د برید په اړه وویل: «کله چې زه بېرته په خود شوم، زما ورور او نورو خپلوانو هڅه کوله چې ما راویښ کړي. ما ولیدل چې زموږ د کور ډېره برخه ویجاړه شوې وه، او څو د کورنۍ غړي د وران شوو دیوالونو لاندې بند پاتې وو... چاودنې زما د کورنۍ پنځه غړي ووژل – د هغوی له سترګو، پوزې او غوږونو څخه وینه راتله». د هغه د کورنۍ له وژل شویو او ټپي شویو کسانو ډېره برخه ماشومان وو، چې تر ټولو کوچنی قرباني درې میاشتنی ماشوم و. هغه وویل چې د کورنۍ کور په پېښه کې ویجاړ شوی و.
- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه، شاوخوا د مازدیګر ۳:۳۰ بجې، د کابل ښار، ۴ ناحیه، تایمني پروژې په سیمه کې، دوه چاودنې رامنځته شوې، چې پکې لږ تر لږه ۹ کسان مړه او ۳۷ ټپیان شول، د هغوی له جملې څخه یې یو هلک، یوه نجلۍ او دوه ښځې وې. لومړنۍ چاودنه د تایمني پروژې په ۵ سړک کې رامنځته شوه چې د سرچینو له مخې په راکټ باندې د تیلو یو ټانکر ولګېده. د تیلو ټانکر په لمبو کې چاودنه وکړه او په سیمه کې د اوسیدو درې آپارتمانونه ویجاړ کړل. دوهمه چاودنه پنځه دقیقې وروسته، د لومړنۍ چاودنې ځای څخه شاوخوا ۳۰۰-۴۰۰ متره لرې، د تایمنی پروژې ۲ سړک سیمه کې رامنځته شوه، چیرې چې د سرچینو په حواله د راکټ ډز له امله یو کور له منځه لاړ. د چاودنې پر مهال، نږدې اوسیدونکو د الوتکې او/یا بې پیلوټه الوتکې د غږ اوریدلو راپور ورکړی دی. د چاودنې له امله زیات شمیر استوګنځي او دوکانونه په سیمه کې له منځه تللي دي. یو شاهد، چې د چاودنې له ځای څخه شاوخوا ۱۰۰ متره لرې د باغوان په توګه کار کاوه، وویل چې کله یې د چاودنو غږ واورېد، پر ځمکه پرېوت. د هغه پلار او تره دواړه ټپیان شول، او دغه کس وویل چې ټپي ماشومان، څو مړي او هغه کسان یې ولیدل چې په برید کې یې لاسونه یا پښې له لاسه ورکړي وو.
- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه، سهار وختي، د خوست ولایت، ځاځي میدان ولسوالۍ، په ستیوان او پلوسي سیمو کې، پاکستاني پوځي ځواکونو د پکتیا ملي راډیو تلویزیون په دوه خبریالانو چې د پولې په اوږدو کې د شخړو د پوښښ لپاره تللي وو، ډزې وکړې. یو یې ووژل شو او بل یې ټپي شو.
- د ۱۵م اکتوبر په شاوخوا ۷:۳۰ بجو، د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ په ستیوان او پلوسي سیمو کې، د پاکستان پوځي ځواکونو پر یوه ملکي کس ډزې وکړې، چې په موټرسایکل سپور خپل کار ته روان و. راپورونه ښیي چې پر هغه د پاکستاني سرحدي ځواکونو لخوا ډزې شوې، او په اوږه او لاس کې ټپي شوی. هغه د ډزو تر پای ته رسېدو پورې په یوه کنده کې پناه واخیسته، او وروسته د ولسوالۍ روغتون ته ولېږدول شو. قرباني وویل چې د ډزو له امله یې یو لاس له حرکته غورځیدلی، چې د ورځني مزدور په توګه کار ته نه شي ستنېدلی.
- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه، شاوخوا د مازدیګر ۴:۳۰ بجې، د پکتیکا ولایت، تروه ولسوالۍ، په نورګل کلا کلي کې، افغانستان ته د پاکستاني سرحدي ځواکونو له خوا د هاوان مرمیو د ویشتلو له امله یوه نجلۍ او یو هلک ټپیان شول.

## د ۱۵م اکتوبر د اوربند له اعلان وروسته ملکي تلفات

د ۱۵م اکتوبر په ماښام، د افغانستان د *برحاله* چارواکو او د پاکستان د اسلامي جمهوریت حکومت د اوربند د پلي کولو اعلان وکړ چې له ماښام ۵:۳۰ بجو (د کابل وخت) / ۶ بجو (د اسلاماباد وخت) څخه پیل شو. یوناما د اوربند له اعلان وروسته د سرحدي ډزو او هوايي بریدونو څخه ملکي مرګ ژوبله مستند کړي دي:

- د ۱۵م اکتوبر په شاوخوا د ماسخوتن ۷ بجو، د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ په ستیوان او پلوسي سیمو کې، د پاکستاني پوځ لخوا یوه د توپ مرمۍ د جومات ترځنګ ولګیده، چې یو سړی یې ټپي کړ، کوم چې له ماسخوتن لمانځه وروسته کور ته روان و. هغه د توپ مرمۍ له چرو څخه ټپي شو، لاس او غاړه یې ژوبل شول.
- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه، شاوخوا د ماسخوتن ۷ بجې، د کندهار ولایت، سپین بولدک ولسوالۍ، په شپولي سیمه کې،

وېش بازار ته څېرمه، پاکستاني پوځي ځواکونو د هاوان څو ډزې وکړې، يوه يې په استوګنځي ولګېده، يو ملکي نارينه يې وواژه او څلور نور يې ټپيان کړل.

- د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۷مه، د پکتيکا ولايت، ارګون ولسوالۍ، په خندر کلی کې، د پاکستاني پوځي ځواکونو له خوا هوايي بريدونو کې يوولس ملکيان (يوه نجلۍ، درې هلکان او اووه نارينه) ووژل شول او ۱۴ نور (دوه ښځې، يوه نجلۍ، دوه هلکان او نهه نارينه) ټپيان شول. د قربانيانو له جملې څخه يو شمير يې د پکتيکا د کرکټ ټيم غړي وو. راپورونه ښيي چې هغوی د پېښې پر مهال د کلي په يوه کور کې د ماښام ډوډۍ خوړله، وروسته له دې چې د ورځې په اوږدو کې يې د کرکټ په ټورنمنټ کې ګډون کړی و. د ټپيانو څخه يو يې په يوه سترګه دايمي ړوند شو.

## د ۲۰۲۵ م کال په نومبر کې ملکي مرګ ژوبله

د ۲۰۲۵ کال په نومبر کې، پاکستان بريدونو ته دوام ورکه، چې د ملکي تلفاتو سبب شول، لږ تر لږه ۱۵ کسان ووژل شول او ۱۳ نور ټپيان شول. له وژل شويو او ټپي شويو کسانو څخه ډېری برخه يې ماشومان وه.

- د ۲۰۲۵ کال د نومبر په ۶مه، شاوخوا د ماښام ۶ بجې، د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کې، راپورونه ښيي چې د پاکستاني پوځ لخوا په يوه استوګنيز کور هاوانونه ويشتل شوي، پنځه ملکي کسان يې ووژل (يو سړی، درې ښځې او يوه نجلۍ) او پنځه نور يې ټپيان کړل (يو سړی، يوه ښځه، يو هلک او دوه نجونې). د قربانيانو يو خپلوان وويل چې هغه په بازار کې و، کله چې ورته زنګ راغی چې د تره کور يې د هاوان د ډزو له امله لګېدلی، درې د کورنۍ غړي يې مړه او پنځه نور ټپيان شوي، چې ډېری برخه يې ماشومان وو.
- د نومبر په ۲۵-۲۴مه ماښام، د پاکستاني پوځ لخوا ترسره شوي يو لړ هوايي بريدونه لس ملکي کسان ووژل او اته نور يې ټپيان کړل. د قربانيانو ډېره برخه ماشومان وو.

  - په ۲۴ نومبر ، د خوست ولايت، ګربزو ولسوالي د مغلګي په سيمه کې، شاوخوا نيمه شپه، د پاکستاني هوايي ځواکونو لخوا په يوه ملکي کور هوايي بريد وشو، چې له امله يې درې ملکيان (يوه ښځه، يو نارينه او يوه نجلۍ) ټپيان او ۱۰ ملکيان ( ۵ هلکان، ۴ نجونې او يوه ښځه) ووژل شول.
  - په ۲۴ نومبر، د پکتيکا ولايت، برمل ولسوالۍ د شريف خيلو په کلي کې نيمه شپه شاوخوا، د پاکستاني هوايي ځواکونو لخوا په يوه کور هوايي بريد وشو، چې له امله يې دوه ماشومان ټپيان شول او کور يې ويجاړ شو.
  - په  ۲۵ نومبر ، د کنړ ولايت، اسعداباد ولسوالۍ، د ساګي په سيمه کې، شاوخوا د سهار ۲ بجې، د پاکستاني هوايي ځواکونو لخوا په يوه کور هوايي بريد وشو، چې له امله يې دوه ښځې او يو ماشوم ټپيان شول.

## د ۲۰۲۵ م کال په دسمبر کې ملکي مرګ ژوبله

- د ۲۰۲۵ کال د دسمبر په ۴ مه، د پکتيکا ولايت د ورمامي ولسوالۍ د تور رغه (انزيري دروازې) په سيمه کې، پاکستاني سرحدي ځواکونو پر هغو ملکي نارينوو ډزې وکړې چې له سرحدي لارې پاکستان ته د تلو په حال کې وو او هلته يې د ورځنيو مزدورانو په توګه کار کاوه. په دې پېښه کې درې نارينه ووژل شول او درې نور ټپيان شول.
- د ۲۰۲۵ کال د دسمبر په ۵، شاوخوا د شپې لس بجې، د کندهار ولايت د سپين‌بولدک ولسوالۍ په سرحدي سيمه کې، د پاکستاني پوځي ځواکونو او د *برحاله* امنيتي ځواکونو ترمنځ شاوخوا درې ساعته وسلوالې نښتې وشوې. په دې نښتو کې د هاوان، توپچي او سپکو وسلو ډزې د سرحد دواړو غاړو ته تبادله شوې. د راپورونو له مخې، لږ تر لږه پنځه ملکي وګړي (دوه سړي، يوه ښځه، يوه نجلۍ او يو هلک) ټپيان او پنځه ملکي وګړي (درې نارينه، يوه ښځه او يو هلک) ووژل شول. يو شمېر سيمه‌ييز اوسېدونکي له خپلو کورونو وتښتېدل. د اسوشيټډ پريس راپور ورکړی چې د پاکستان پوليسو او د روغتون چارواکو

ویلي، چې درې کسان په چمن، پاکستان کې د افغانستان له لوري د سرحدي ډزو له امله ټپيان شوي دي.[5]

- د ډسمبر په ۱۹مه، شاوخوا د سهار په ۱۰:۳۰ بجو، د کونړ ولایت د شېلټن ولسوالۍ د سانو سیمې د غند کلي په شاوخوا کې د *برحاله* سرحدي امنيتي ځواکونو او د پاکستان د پوځ ترمنځ وسلواله نښته رامنځته شوه. د پاکستاني پوځي ځواکونو لهخوا توغول شوې د هاوان یوه مرمۍ د غند کلي پر یوه کور ولګېده، چې له امله يې یو ۱۵ کلن هلک سخت ټپي شو او وروسته د ډسمبر په ۲۲مه يې په روغتون کې ساه ورکړه.

## پر ملکي وګړو يې اغېز

د قربانیانو او د هغوی د کورنیو یو شمېر غړو، چې یوناما ورسره مرکې کړې، راپور ورکړی چې د بریدونو له امله يې دایمي معلولیت تجربه کړی – لکه ړندوالی، د لاس یا پښې له لاسه ورکول یا د هغوی د فعالیت له منځه تلل. هغوی همدارنګه وویل چې د خپلوانو د مرګ او د بریدونو د پیښو او پایلو له امله يې رواني ټروما تجربه کړې، چې پر رواني روغتیا يې اغېز کړی. سربېره پر دې، په دغو پېښو کې یو شمېر کورونه او کاروبارونه ویجاړ شوي، او څاروي هم وژل شوي دي.کورنۍ، په ځانګړې ډول د کندهار په سپین بولدک کې، د جګړې له امله بېځایه شوې. ځینې کسان چې یوناما ورسره مرکې کړې او د ۱۵م اکتوبر د جګړې له امله تښتېدلي وو، وویل چې کله بېرته ستانه شول، بیا يې د پاکستاني پوځ لخوا په ۶م نومبر د هاوان د ډزو له امله  کډه وکړه.

## قانوني چوکاټ

د نړیوال بشردوستانه حقوقو له مخې، د شخړو ښکېلې خواوې مکلفې دي چې د پوځي عملیاتو د پلان جوړونې پر مهال او د هغو د ترسره کولو په بهیر کې لاندې اساسي اصول مراعت کړي:

**توپیر:** ملکي وګړي، هم د یوې ډلې په توګه او هم هر یو په انفرادي ډول، باید د برید هدف ونه ګرځول شي، او د شخړې ښکېلې خواوې باید تل د ملکي وګړو او جنګیالو ترمنځ توپیر وکړي.[6] دا اصل ایجابوي چې د شخړې ښکېلې خواوې له یوې خوا د ملکي وګړو او ملکي شیانو، او له بلې خوا د جنګیالو او پوځي موخو ترمنځ روښانه توپیر وکړي. بریدونه یوازې د پوځي موخو پر ضد کېدای شي. د دې لپاره چې یو څیز یا ودانۍ پوځي هدف وبلل شي، باید دوه یو ځای کېدونکي شرطونه پوره کړي: (۱) د خپل «ماهیت، موقعیت، هدف یا کارونې» له مخې په مؤثر ډول د پوځي عملیاتو برخه وګرځي، او (۲) د هغه «ټوله یا جزوي ویجاړېدل، نیول یا بېاغېزې کېدل» د هغه وخت د حالاتو له مخې یو څرګند او مشخص پوځي برلاسی رامنځته کړي[7].

**تناسب:** هغه برید منع کوي چې تمه ترې کېږي د ملکي وګړو د ژوند ضایع کېدل، د هغوی ټپي کېدل، د ملکي شیانو زیانمنېدل، یا د دې ټولو ګډه پایله ولري، که چېرې دغه زیانونه د تمه کېدونکي مشخص او مستقیم پوځي برلاسی په پرتله زیات او بېتناسب وي.[8]

**په برید کې احتیاط :**[...] «ملکي وګړي باید په عمومي ډول د پوځي عملیاتو له امله رامنځته کېدونکو خطرونو پر وړاندې خوندیتوب ولري.»[9] د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال باید تل پوره پاملرنه وشي څو ملکي وګړي، او ملکي شیان وساتل شي،[10] او ټول ممکن احتیاطي تدابیر باید ونیول شي، تر څو د ملکي وګړو د ژوند ناڅاپي ضایع کېدل، د هغوی ټپي کېدل او د ملکي شیانو زیانمنېدل لږ تر لږه کم او یا يې مخنیوی وشي[11].

[5] اسوشیټډ پریس(AP) ، د افغانستان-پاکستان د سرحد پر اوږدو د شپې لخوا د ډزو په تبادله کې ۵ کسان وژل شوي او ۸ نور ټپيان دي، چارواکي وايي، ۶ دسمبر ۲۰۲۵. د لاسرسي وړ ده :  .https://apnews.com/article/afghanistan-pakistan-border-shootout-2d2766c8d15bf94369fb87b46185e1a8

[6] د ۱۹۴۹ کال د اګست ۱۲مې د جنیوا کنوانسیونونو الحاقي پروتوکول چې د نړیوالو وسلهوالو شخړو د قربانیانو د ساتنې په اړه دی) (پروتوکول ۱) د ۱۹۷۷ کال د جون ۸مه، ماده ۴۸. همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د عرفي نړیوال بشري حقونو څېړنه، قاعده ۱.

[7] د ۱۹۴۹ کال د اګست ۱۲مې د جنیوا کنوانسیونونو الحاقي پروتوکول چې د نړیوالو وسلهوالو شخړو د قربانیانو د ساتنې په اړه دی) (پروتوکول ۱) د ۱۹۷۷ کال د جون ۸مه، ماده ۴۸. همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د عرفي نړیوال بشري حقونو څېړنه، قاعده ۱.

[8] الحاقي پروتوکولI ، ماده ۵۱(۵)(ب). همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د عرفي نړیوال بشري حقونو څېړنه، قاعده ۱۴.

[9] الحاقي پروتوکولI ، ماده ۵۱. همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د عرفي نړیوال بشري حقونو څېړنه، قاعدې ۱۵–۲۱.

[10] الحاقي پروتوکولI ، ماده ۵۷)۱.

[11] الحاقي پروتوکولI ، ماده ۵۷(۲)(الف).(ii)

## سپارښتنې

د افغانستان د پوځي عملياتو ټول اړخونو باید:

- د نړیوال بشري قانون رعایت یقیني کړئ، په ځانګړي ډول د احتیاط، توپیر او تناسب اصول، ترڅو ملکي وګړي له زیان څخه خوندي پاتې شي.
- په هغو سیمو کې  چې ملکي وګړي پکې مېشت دي د غیرمستقیم اور د سیستمونو (هاوانونه، راکټونه او لاسي بمونه) کارول بند کړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د ملکیانو د مرګ ژوبلې مخنیوی په اړه پروتوکولونو، په ځانګړي ډول د هوايي بریدونو اړوند پروتوکولونه رعایت کیږي.
- د نړیوال بشردوستانه قانون او نړیوال بشري حقونو د قانون د سرغړونو په اړه چټکې، مؤثرې، بشپړې، خپلواکې، بې‌طرفه او شفافې څېړنې ترسره کړئ، د سرغړونو مرتکبین مسؤل وګڼئ او د قربانیانو د حقونو (حقیقت، عدالت او جبران) ملاتړ وکړئ.
- د یوې پېښې له رامنځته کېدو وروسته د ملکي قربانیانو اړتیاوو ته رسېدنه، د بېلګې په توګه د طبي پاملرنې برابرول، د زیانمنو شویو کورونو او سوداګریزو ځایونو بیا رغونه، او مالي ملاتړ.

## ضمیمه الف: د افغانستان د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت لخوا وړاندې شوې څرګندونې

**نېټه : ۵ فبروری ۲۰۲۶**
د افغانستان اسلامي امارت د ملکي وګړو د ژوند، خوندیتوب او کرامت ساتنه یو بنسټیز اصل بولي او په ټینګار سره هر هغه عمل غندي چې د بې ګناه ولسي وګړو د وژل کېدو، ټپي کېدو او یا د هغوی د شتمنیو د ویجاړېدو لامل ګرځي. په همدې تړاو، اسلامي امارت د راپور تر پوښښ لاندې موده کې د افغانستان په سرحدي ولایتونو کې د رامنځته شویو هغو پېښو په اړه ژوره اندېښنه څرګندوي چې د درنو وسلو، هاوانونو او هوایي بریدونو د کارولو له امله یې ګڼ شمېر ملکي وګړو ته، چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي، مرګ ژوبله اوښتې ده.

د افغانستان اسلامي امارت په ټینګار سره وایي چې د پوځي په اوږدو کې هر ډول پوځي اقدام باید د نړیوال بشردوستانه حقوقو د اساسي اصولو په ځانګړي ډول د توپیر، تناسب او احتیاط له اصلونو سره سم ترسره شي. د استوګنیزو سیمو، ملکي کورونو او عامه تاسیساتو په نښه کول، که په مستقیم او که په غیر مستقیم ډول وي د نړیوالو حقوقي مکلفیتونو ښکاره سرغړونه بلل کېږي.

اسلامي امارت هغه ادعاوې نه مني چې ګواکې د افغانستان له خاورې څخه د پاکستان پر وړاندې بریدونه د ملکي وګړ و د زیامننېدو لپاره د توجیه وړ ګرځېدلی شي. اسلامي امارت بیا بیا ټینګار کړی چې د خپلې خاورې څخه د بل هېواد پر وړاندې د هر ډول ناامنۍ د کارولو اجازه نه ورکوي، او باور لري چې د سرحدي ستونزو د حل یوازینۍ اغېزمنه لاره د متقابل درناوي، تفاهم او منظمې ډیپلوماتیکې همکارۍ له لارې ده، نه د پوځي فشار او یو اړخیز ځواک کارول.

د افغانستان اسلامي امارت غوښتنه کوي چې د پولې پورې غاړې پوځي اقدامات، په ځانګړي ډول د هوایي بریدونو او د درنو وسلو کارول، چې په تېرو کې په پر له پسې ډول د سرحدي سیمو د ملکي وګړ و ژوند له جدي خطر سره مخ کړی په بشپړ ډول پای ته ورسېږي، او د پخوا رامنځته شویو پېښو په اړه شفافې، خپلواکې او بېطرفه څېړنې ترسره شي.

همدارنګه، اسلامي امارت د ملګرو ملتونو له اړوندو ادارو غوښتنه کوي چې د سرحدي پېښو د مستند سازۍ په بهیر کې د بېطرفۍ اصل په بشپړ ډول رعایت کړي، د ټولو ښکېلو لورو دریځونه په متوازن ډول منعکس کړي، او د ملکي وګړو د خوندیتوب د پیاوړتیا لپاره د عملي او وقایوي میکانیزمونو د رامنځته کولو ملاتړ وکړي.

**پاي**

## ضمیمه ب: د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت لخوا وړاندې شوې څرګندونې

**نېټه : ۲۸ دسمبر ۲۰۲۵**

په تېرو څو کلونو کې پاکستان د هغو ترهګریزو بریدونو هدف او قرباني پاتې شوی چې سرچینه یې د افغانستان خاوره بلل کېږي. یوازې په روان کال کې، پاکستان د افغانستان څخه د سرچینه اخیستونکي ترهګرۍ له امله ۱٬۱۱۵ ملکي مرګ ژوبله لیدلې ده. په دغو مرګ ژوبلو کې ۳۸۷ کسان وژل شوي او ۷۲۸ نور ټپيان شوي دي.

پاکستان په پرله پسې توګه د *برحاله* چارواکو سره کره او مستند معلومات شریک کړي دي، چې پکې په افغانستان کې د ترهګرو ډلو شتون، په ځانګړې توګه د تحریک طالبان پاکستان (TTP) او د بلوچستان د ازادۍ پوځ (BLA) ، او همدارنګه پر پاکستان د هغوی ترهګریز فعالیتونه شامل دي.

له بده مرغه، دا مشاهده شوې ده چې په افغانستان کې د مېشتو ترهګرو ډلو پر وړاندې د کومو مشخصو او عملي اقداماتو د ترسره کولو پر ځای، *برحاله* ځواکونه په منظم ډول سرحدي ډزو ته مخه کوي، په داسې حال کې چې د پاکستان ځواکونه د پولې هغې غاړې ته د ترهګرۍ پر ضد عملیات ترسره کوي.

په ځانګړي ډول، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۱–۱۲ نېټو، *برحاله* ځواکونو له پولې هاخوا پرته له کومې موجه او په بې توپیره توګه، د درنو وسلو په کارولو سره ډزې وکړې، چې پکې توپونه او هاوانونه شامل وو. همدارنګه، د خیبر پښتونخوا او بلوچستان ولایتونو په بېلابېلو ولسوالیو کې د پولې په اوږدو کې پر ۲۶ ځایونو د پاکستان د پوځي تاسیساتو او په زېربناوو د فزیکي برید هڅې هم وشوې.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵-۱۴ مه نېټه، *برحاله* ځواکونو بیا پرته له کومې موجه او په بې توپیره توګه د درنو وسلو څخه کار اخیستی او د پاکستان د پوځ پوستې او ملکي بنسټونه یې په سرحدي سیمه کې په ۲۵ ځایونو کې هدف ګرځولي، چې پکې د چمن ټرمینل هم شامل دی، چې هره ورځ سلګونه ولسي وګړي او مال وړونکي موټر پرې تېرېږي. دې بریدونو ګڼ شمېر ملکي او پوځي تلفات اړولي او پاکستاني اړخ ته یې د زیربناوو د پام وړ زیان اړولی، چې پاکستاني ځواکونو یې ځواب ورکولو ته اړ کړل.

پاکستان تل د *برحاله* ځواکونو د تحریکونو په وړاندې ځان محدود ساتلی او یوازې یې د ځان د دفاع په موخه عمل کړی دی. د پاکستان د امنیتي ځواکونو اقدامات دقیق او حساب شوي دي، او د پوځي مرکزونو، پوستو او پېژندل شویو ترهګریزو کمپونو پر وړاندې متمرکز دي، څو هیڅ ملکي تاوان ونه رسیږي.